،،ځو مشرانو پکښي پند او نصحت بیان کړو
،،څه لیونو پکښي د مینی فضِلت بیان کړو

،،محفل کښي بهس وو په عظمت او مرتبه د مَړو
،،ما پکښي هم د چا د مړو سترګو عظمت بیان کړو

،،یا ترینه لاس واخله او یا د ژوند نه لاس وینزه
،،یو پوها کس راته انجام د محبت بیان کړو

،،رانه تپوس وشو پښتونه حیصیّت دي څه دي
،،ما ورته سمدستی د پلار نیکه نِسبت بیان کړو

،،خوی یي پښتون رنګ یي پښتون نامه یي هم پښتون
،،غږ د پښتون منظور پښتون څه په جُرت بیان کړو

،،په ژوند نصیب نه شو خو مړی مې وطن ته یوسئ
،،یو مسافر خپلو بچو ته وصیّت بیان کړو

،،لقمانه ستا د مینتونو پری اثر ونه شو
هغه راستون نه شو هغه معزرت بیان کړو